(١)

## د روښان پیر عصر او د ده غورځنګ

د هجرت لسمه پېړۍ (١٦ م) د آسیا په سیاسي او اجتماعي او هنري تحول کښي داسي زمانه ده چي په هند او ایران او عثماني ترکي هیواد کښي د فیوډالي نظام جرړي خورا ټینګي سوي او د شاهنشاهۍ لوړ پوړ ته رسېدلي وې.

په (٩٣٢ ق) (١٥٢٥ م) کال بابرشاه له کابله ولاړ او په پاني پت کښي ئې سلطان ابراهیم لودي افغان پاچا وواژه، او د ګورګاني پاچهۍ بنیاد ئې په ډهلي کښي ټینګ کئ، ددې کورنۍ لویه شاهنشاهي تقریباً دوه قرنه پر ټول هندوستان تر کابل او کندهار او کله کله تر بلخه چلېده او د شاهي غښتلي نظام ټول هغه خاصیتونه ئې لرل چي هنر او درباري ادب او تجارت او صنایع وده پکښي کوي، او د بډایانو ډله پر ټول اولس باندي د شاهنشاهانو په مرسته بریالي کیږي.په ایران کښي هم په دغه وخت کښي د صفویانو شاهي کورنۍ د خپل اقتدار لوړي څوکۍ ته رسېدلي وه، او کله کله به ئې لاسونه د کندهار د زاړه ښار تر ټینګي کلا پوري هم را اوږدول.

د افغانستان شمالي خواوي چي دمخه د غزنویانو او غوریانو او بیا د هرات د تېموریانو د شاهنشاهیو لېچونه ګڼل کیدي، له خپله مرکزه بیلي سوې او د ځینو داسي خانانو تر لاس لاندي وې چي د هند د کورګاني او د ایران له صفوي دربارونو سره به ئې ډغري وهلي او په حقیقت کښي د افغانستان سیمي ددغو درو فیوډالي غښتلو نظامو تر منځ د جګړو او مقابلو ډګر وْ.

دلته به تل ظالم حکمرانان د توري تر سیوري لاندي ناست وه، له خلکو څخه به ئې مالیات ټولول، او دغه ثروتونه به تلل چي په اگره او اصفهان کښي لويی لويی مانۍ په وداني سي د پاچاهي دربارونو د ښکلا او آرایښت او سمبالولو سامان په حوړ سي. نو په هغه اندازه چي هنر او صنعت او تجارت او عیش او نشاط په هغو پایتختونو کښي وده کوله دغه سیمي او خلك به خوارېدل او مځکي به ئې شاړي کېدې ښارونه به ئې ورانېدل او پر وگړو به ئې داسي ظلمونه کېدل چي د ویلو وړ نه دي.

ددې زمانې د اجتماع غړي یا پوونده وو چي د کوچیانو په دود به د خپلو غېلو سره په غرو او دښتو کښي په اورشوگانو پسي گرزېدل او دا ډله د نورو د غذا او د ابتدائی ثروت د پیداکولو لومړۍ سرچینه وه او د دوی ژوند په خورا سادگۍ تېرېدئ له مدنیته او ښاري ژونده محروم وه هنر او صنعت د علم او د ژوندانه ښیگړو په دوي کښي وده نه سوای کولای او دا د ژوندانه هغه دوره ده چي د بیټ نیکه په دې زاړه شعر کښي تصویر کیږي:

دلته دي د غرو لمني

زموږ کرږدۍ دي پکښي پلني

دلته لږ زموږ اور بل دئ

ووړ کورگی دئ، ووړ بورجل دئ

دا وگړي ډېر کړې خدایه !

لویه خدایه ،لویه خدایه (١) !

✵ ✵ ✵

دوهمه اجتماعی ډله چي د کلو او کروندو پر سمسورو مځکو اوسېدله کرونکي او خواریکښ دېگانان وه یا هغه قبیلوي لېږدېدونکي خلك وه چي

ځړ ځایونه به پر تنګ سول نو به دوی د نوو ورشوو په تلاښ کښي تلل او هر ځای چي به ئې سمسور او د خپل ژوندانه لپاره وړ ولید هلته به ئې مېنه جوړوله کلی او چمنونه او کنډرونه به ئې ودانول پټي او کروندې به ئې کرلې اوبه او د هستوګني ځایونه او مځکي او ځړتونونه او تپې به ئې سره وېشلې خو د مځکو او سیمو د مالکیت دورې ته نه وه رسېدلي، ګرد مځکي د ګردو خلکو وې او هري کورنۍ یولس کلنۍ (برخه) درلوده چي تر هر لسوکالو وروسته به بیا ګرده پټي د ګردو ملکیت کېدئ او نوئ "وېش" به کېدئ ددې اجتماعي نظام وروستنۍ منظم سیستم هغه دئ چي په تاریخ کښي د "شیخ ملي دفتر" بلل کیږي، او په پنځلسم میلادي قرن کښي د خیبر هغي خواته تر اباسینده پوري خپور وْ (۲) څو چي په (۱۸٦۹ م) کال د پرنګیانو استعمار په خاني ملکیت سره راواړاوه اوپه "بندوبست" مشهور دي.

کله چي د هند د کورګانیانو د شاهنشاهۍ قوت پر دغه اجتماعي نظام غالب سو، نو د شیخ ملی دفتر له سمو ځخه غرو ته وخوت او د خانانو له ملکیتونو ځخه په ګوښو او بوښو کښي پټ سو د خوشحال خان په وخت کښي چي د کورګاني شاهانو قدرت خپلي ډیري لوړتیا ته رسېدلئ وْ، د شېخ ملي دفتر پټ پټ په قبایلو کښي چلېدئ :

په سوات کي دي دوه څیزه که خفي دي که جلي
"مخزن" د درویزه دئ یا "دفتر" د شېخ مـــــــلي
(خوشحال خان ختك)

❋ ❋ ❋

دریمه ډله خلك په ښارو او کلیو او بانډو کښي ځني کسب ګران او صنعت کاران او سوداګران یا دکانداران وو چي مدني ژوند ئې درلود، او په ښاري

دودونو روږد وو، دوی به د ملوك الطوايف د غښتلي نظام لپاره په کار او کسب تگ راتگ، جوړولو او ودانولو بوخت وه، او د دوی د سعی او عمل غوړزگي به د لوړو ډلو د عيش او سترخوان ته وتله، خو دوی به په ښارو او کليو کښي لږ څه سوکه ژوند کاوه او د کلتور په تحول او خپرونه کښي ئې تکړه لاسونه ښوږول. کله چي سړی د پښتونخوا د تاريخ پاڼي سره اړوي نو دغه ډله ويني چي دوی ډول ډول هنرونه لکه : اوودنه، ښکلونه، لوښي جوړونه، ودانونه، انځورونه، ليکنه، موسيقي، ادب او داسي نور ډېر د ژوندانه ښېگړي د ملوکی نظام تر سيوري لاندي روزلي او خواره کړي او د مدنيت او هنر او ادب کروندي ئې سمسوري کړي دي.

❋ ❋ ❋

څلرمه لوړه او غښتلې ډله ملوك الطوايف او حکمرانان او لښکرکشان او درباريان او د دوی ملگري فرعي ډلي لکه : روحانيان او ملايان او پيران وو، او کله چي به د هغو نورو ډلو څخه ځيني غښتلي او بريالي راووتل، نو به هغه هم په دې لوړه ډله کښي درېدل، او د شاهانو او دربارونو په زور به ئې واړه يا غټ ملوکي مراکز جوړول، لکه ملك شاه منصور يوسفزي چي خپله لور بي بي مبارکه ئې بابرشاه ته واده کړه او ځان ئې ددغه پاچا په دربار کي داخل کئ. (۳) يا د خوشحال خان ختك کورنۍ چي د ډهلي د واکمنو له خوا ددې سيمي مشران او جاگيرداران وه يا مثلاً له روحانيونو څخه خواجه عبيدالله احرار د آمو په شمال او جنوب کښي د دوني مځکو او جايدادونو خاوند وْ چي ځانته ئې مستوفيان لرل(٤) او ملا عبدالله سلطان پوري شيخ الاسلام چي په هند کښي د روښان معاصر وْ، کله چي په (۹۹۰ ق ) (۱۵۸۱م) مړ سو، دېرش مليونه روپۍ ځيني پاته سوې (٥).

د روښان پير د غورځنګ او راوتلو اجتماعي علل موږ دده د عصر او اجتماعي احوال او د ټولني د ډله ييزو اوضاعو او روحياتو په څېړنه کښي موندلای سو.

د دغسي اجتماعي احوال او ډله ييز نظام طبيعي خاصيت هم دادئ چي ګرده نوري ډلي فقط د پاسنۍ ډلي لپاره استحصاليږي او د دوي کار او زيار غتي ګټي هم هغه ډله خټي چي د اجتماع لوړي څوکۍ ته ختلي وي، او د خپلو استحصالي ګټو وټو لپاره يو له بله سره مله وي.

د روښان پير د پيداکېدلو په زمانه کښي پونده ګان او کرونکي او کسب کاران او خواري کښانو، د ملوك طوايف په مېچنه کښي داسي دل کېدل، چي د دوي د مظلوميت او ناورين داستانونه ډېر ترخه دي. د پنځلسم قرن په لومړۍ نيمي کښي (٨١٢ _ ٨٥٣ ق ١٤٠٩ _ ١٤٤٩ م) ميرزا الغ بېګ د سلطان ابوسعيد کورګان زوی د کابل پاچا وْ ده د کوچيانو يوسفزو ډېر مشران د کابل په سياه سنګ کښي تر تېغ تېر کړل چي پاته يوسفزی او کند او زمند قبايل ځني ولاړل او له پېښوره تر سواته ميشته سول.(٦)

په (٩٢٥ ق ١٥١٩ م) کال بابرشاه له کابله راووت او په پختيا کښي ئې دا د رمان پوونده قبايل دونی ووژل چي د دوي له ککريو څخه يوه لوړه مناره جوړه سوه. (٧)

او تر دې دمخه چي بابر په (٩١٣ ق ١٥٠٧ م) کال له غلجو څخه سل زره پسونه تالا کړي وو دوي ئې دوني وژلي وه چي د ککريو څخه ئې څلي جوړ کړي وه. (٨)

د ظالمو حکمرانانو دغه ظلمونه پر ټولو خلکو باندي ډول ډول کېدل، حتی چي د دوی خدمتګاران هم ځني خلاص نه وه، په (٨٠١ ق ١٣٩٨ م) امير

تېمور د خپل زوی میرانشاه پر درباریانو په قهر سو او له دوی څخه ئې څو تنه عالمان او هنرمندان ووژل. (۹) او د سمرقند دوه تنه ماهر معماران ئې له دې جهته مړه کړل چي ولي ئې د مدرسې دالان د مسجد تر دالان جگ جوړ کړئ دئ؟ (۱۰)

د بشریت تاریخ د قهر او غضب او وینو بهولو او د انسانانو د وژلو او پوپناه کولو په ډېرو ویرجنو واقعاتو لړلي دئ، مگر ظلم او تجاوز او تالا او تېری تل په مظلومو خلکو کښي قهرمانان هم پیدا کوي، او تالا سوي ویرژلې ډله د هر تېري په مقابل کښي خپله تره او کرکه په ډول ډول راباسي، چي یو شکل ئې د تاریخي اتلانو او ملي مېړونو راوتل او د خلکو ډله ییز غورځنگونه دي.

داسي اتلان کله کله له وگړني ډلي او لاندي مظلومو او استحصال سوو او انسانانو د ویرژنو احساساتو او د ناورین وهلو وگړو د خوږمنو جذباتو ښکارندوی او خواخوږي سړي له نورو ډلو څخه راځي، او د دوی د نجات لپاره لارښوونه او مشرتوب کوي او کله کله سربازي او د اتلتوب چاري هم تر سره کوي.

روښان پیر د افغانستان په تاریخ کښي د هند د کورگاني امپراتورانو مخي ته د دغسي اتل ځای لري چي د خپلي روحاني ډلي څخه د وگړو د نجات لپاره د شاهنشاهانو د بریالیو لښکرو مخي ته درېدلی، جنگېدلی، بریالی سوئ، مات سوئ او وژل سوئ دئ.

دی په خیرالبیان کښي مکرراً ځان (عامی) بولي یعني وگړی.

لکه چي تاسي دمخه ولوستل د افغانستان عام پونده، کښت گران، خواری کښان او کسب کاران او دهقانان ټوله د شاهنشاهانو او غټو خانانو د چو راو چپاو په اور کښي الوی کېدل، او د دوی ویني به زبېښلي کېدې، نو روښان پیر

ددې تور نظام ماتولو ته هڅه کوله او حکمرانان به ئې و عدل او انصاف ته رابلل، د کندهار په سفر کښې د هغه ځاى حکمران بيرم خان ته وايي :

"گفتم اميران و پادشاهان را حق تعالى از عدل خواهد پرستيد و يك ذره عمل کسى را حق تعالى ضايع نگرداند، بروى بنمايد ... " (١١)

په همدغه سفر کښې روښان پير يوه زړه ريږدېدونکې واقعه وليده چې څنگه دده قوم مظلوم دئ؟ او څنگه پردي بداياان دلته ظلمونه او تيري کوي؟

وايي چې ده په کندهار کښې يوه پښتنه مېرمن وليده چې حکومتي سپاهيانو ئې د کوڅيو ويښتان د ژرندي په پله پوري تړلي وه او دا مظلومه ښځه د ژرندي د پله سره چورلېده نو روښان دوني متاثر سو چې د کورگانيانو سره ئې په خپل عمري جهاد لاس پوري کړ. (١٢)

د پير روښان غورځنگ پر دغو تاريخي عواملو بنا سوى دئ نو ځکه د افغانستان د خلکو په ژوندانه کې ئې د يوه (ملي غورځنگ) لپاره لاره تياره کړې ده چې تر ده وروسته د خوشحال او ايمل او ميرويس په غورځنگونو ښکاره سو او نتيجه ئې هغه وه چې لوى احمدشاه ابدالي بيا د دې ملت د آزادى بيرغ ورپاوه (د زيري اضافات) (زيرى: ٣٩ گڼه – ١٣٥٣ش)

(٢)

## روښان پير څوك وُ؟

بايزيد د قاضى عبدالله اورمړ زوى چې پلار او نيکه ئې د وزيرستان په کاڼي گورم کښې اوسېدل په (٩١٣ ق ١٥٢٤ م) کال د پنجاب په جالندهر کښې وزيږېدئ چې د مور نوم ئې بيبڼ (١٣) امينه د حاجي ابوبکر لور وه.

د دوی کورنۍ په "انصاري" مشهوره وه او د بایزید د طریقت لقب "مسکین" وْ او پر مهر ئې "بایزید انصاري" او "بایزید مسکین" کښلئ وْ، دده یو شاگرد دولت ویلي دي :

هر طالب که عمل کا مقصد به مومي
چي مــرید د ورمړ بایزید مسکین سه

بایزید چي د طریقت اته مرتبې ټاکلي دي په هغه کي هم اتمه لوړه درجه د "سکونت" ده او مسکین هم د سکونت پوړ ته رسېدلی گڼي، دولت وایي:

سکونت بلند مقام له واړو پاس دئ
نور ده دپاسه نشــــته مقامونه (١٤)

دا چي ده د "روښان" لقب هم موندلئ دئ تذکرآ الانصار وایي چي پخپل کرامت ئې څراغ په اوبو بل کړئ وْ، نو ځکه خلکو روښان وباله (١٥) بیا اخوند درویزه وایي : چي زما استاد ملا محمد چي په ملا زنگي پاپیني مشهور وْ، دی په مباحثه کښي پړ کئ بله ورځ بیا موږ د بحث لپاره ورغلو دی راسره مخامخ نه سو نو ملازنگی دی پیر تاریك وباله (١٦) چي وروسته نو اخوند درویزه او دده پیروانو دا نوم مشهور کئ. (١٧) د روښان پیر ملی مبارزې او دده مقاومتونه د خپلو مسلکي او سیاسي مخالفینو سره د افغانستان د خلکو د تاریخ یو مهم ټوك دئ، چي د مخه ما د پښتو ادبیاتو په تاریخ (دوهم ټوك) کښي لسم څپرکي (١١٧) مخه پر لیکلي او په (١٣٤٢ ش) کال په کابل کښي چاپ سوي دئ، بیا چي خیرالبیان په (١٩٦٧ م) کال په پېښور کښي چاپ سو نو ښاغلي حافظ عبدالقدوس قاسمي پر هغه باندي یوه گټوره سریزه وکښله او هم په (١٩٦٩ م) کال ښاغلي تقویم الحق کاکاخیل ختټك د اخوند درویزه پر مخزن باندي دغسي یوه مقدمه کښلې ده نو دلته زه دده شرح حال او عقاید او د طریقت

لاري چاري بيا نه څېړم که څوك غواړي دغه کتابونه دي ولولي، او دده د کورنۍ او اخلافو مبارزې او کارنامې هم لږ و ډېر ما د افغانستان د بابري شاهانو په تاريخ او د آريانا په مجلو په کابل کښي خپرې کړي دي نو ئې دلته بيا نه راوړم خو په لنډ ډول دده د ژوندانه مراحل ښيم:

زېږېدنه : (۹۳۱ ق ۱٥٤۲ م) کال په جالندهر کښي.

له خپل اکا شېخ خداداد او مور سره کانې کوړم ته راتگ د (۹۳۷ ق ۱٥۳۰ م) حدود. د بايزيد نکاح له بي بي شمسو سره ( د تره لور) د (۹٥٥ ق ۱٥٤۳ م) حدود په کانې کوړم کښي. د سياحت او سلوك وخت له (۹٥٥ ق تر ۹۷۰ ق) پوري (۱٥٤۳ _ ۱٥٦۲ م)

د پيرکامل درجې ته رسېدل او تبليغ خپرول او د صراط التوحيد تاليف (۹۷۸ ق) کي (۱٥۷۰ م). د اشنغر جنگ او کابل ته تگ او د قاضی خان او ميرزا حکيم سره خبري کول د (۹۷۹ ق حدود ۱٥۷۱ م).

د آغاز پور جنگ : د (۹۷۹ ق ۱٥٦٥ م حدود).

د توړراغه جنگ او د روښان وژنه : د (۹۸۰ ق ۱٥۷۲ م) حدود. (۱۸) دده خلف او زوی شيخ عمر او وروڼه ئې کورگانيانو مړه کړل (۹۸۲ ق ۱٥۷٤ م) د روښان پير لپاره وروستنيو ليکوالو اوږدې نسب نامې هم جوړې کړي دي يو له هغو څخه د مولوی نيازالدين دانشمند انصاری "تذکرآ الانصار" ده چي د جالندهر د "انصاری" کورنۍ يو غړی وْ په دې تذکره کښي : بازيد مسکين بن عبدالله بن محمد شيخ بن بابا شهباز تر حضرت ابو ايوب الانصاری پوري رسول سوي دي. (۱۹)

دا تذکره د روښان مولد په جالندهر کښي د شيخ احمد غوث ولی له روضې سره مشهور ښيي مگر دغه نسب نامه سمه نه ښکاري ځکه چي د

موْرخانو په اتفاق په یوه قرن کښي درې پښته تیریږي خو په دغه نسب لیك کښي له بازیده تر ابوایوب انصاری پوري ۱۸ پښته دي چي گرده باید تر ٦۰۰ ق پوري راورسیږي، حال دا چي تر بازیده پوري (۳۰۰) نور کلونه هم تېر سوي دي او بله دا چي د شیخ الاسلام عبدالله انصاری هروی د نسب سلسله هم دغه ابوایوب انصاری ته رسیږي. (۲۰) خو په دواړو نسب نامو کښي هیڅ توافق نه ښکاري.

په هند کښي ډیري کورنۍ ځانونه "انصاری" بولي او په دغسي غټو او مشهورو روحانی رجالو پوري نسب نامه نښلول په اسلامی تاریخ کښي دمخه هم وینو او ښایی چي تر روښان دمخه د اورمړو یوې قبیلې ځانته انصاری سلسله جوړه کړي وي لکه سیدحسین غوري ته د بي بي متو د کهول نسبت یا سید محمد گیسو دراز ته د وردگو نسبت یا د هند د خضرخان پښتنه کورنۍ چي "سادات" وگڼل سوه (۲۱) یا د اردبیل صفوي کورنۍ چي ساداتو ته منسوبه سوه.

په هر صورت اخوند درویزه انصاریان د اورمړو یوه قبیله بولي (۲۲) او وایي چي : "د بازید پلار نیکه دواړه عالمان وه د اورمړ وه، هم رښتیني وه په دین کښي." (۲۳) بایزید په دغسي کورنۍ کښي لوی سوئ وْ د خپل عصر دیني علوم : فقه، تفسیر، حدیث، اخلاق، تصوف ئې په عربي او فارسي کتابو کښي لوستي وه مگر دده له آثارو څخه داسي څرگندیږي چي محقق او متبحر عالم نه وْ ځکه چي عربي لیکني ئې معیاري نه دي د صحیح او موضوع حدیث تحقیق نه کوي، پخپله هم د ډېر علم مدعي نه دئ (۲٤). او فارسي لیکني ئې هم ناوړي خواوي لري، او په پښتو او فارسي کښي ئې جوړ کړي نظمونه هم ښکلي او خواږه نه دي، مگر دی یو ریاضت کوونکی او ذاکر او د روحانیت

پلو ته ورتېر تود مبلغ او مجاهد ښكاري پنځه كاله په كور كښي په رياضت تېرول او انزوا او نفسي سير دوني اثر لري چي د سړي شخصيت خورا موْثر سي او وينا ئې خلك واروي كله چي د كندهار له سفره راځي نو پنځه كاله په خلوت كښي كښيني بايزيد نافذ شخصيت او غښزمن تبليغي قوت او د قيادت لياقت او دا خبره چي څنگه خلك يوه لوړ مقصد ته پر لار رهي كي، د څېړلو او پلټلو وړ خواوي دي، او داسي چي بايزيد د رياضت او ذهني تمرين او مراقبې له لاري دوني سير آفاق و انفس كړئ وْ چي پر خلكو به دده شخصيت اغېزه كوله، او دده خبره به ئې په عقيدت او اخلاص اروېده او په ده كښي دوني همت او عالي سجايا هم وه، چي غوښته ئې پادشاهان او مقتدران او د خپل عصر د بريمني طبقې مشران خپل دعوت او موقف ته راوبولي ا ودا هغه وخت وْ چي ده يوويشت كاله په نفسي پالنه او مراقبه او تزكيه كښي تېر كړي وه، پخپله وايي :

درين بيست و يك سال مرا در خواب يا به الهام بشارت شده كه يك رساله يا خليفه سوى پادشاهان بفرست تا دعواى توحيد در ولايت شان نشان در آرند، تا آن پادشاهان كه از علم توحيد بيخبر بودند نيز بطلب علم توحيد بگمارند ... مسكين گفته است : نظر دارم سوى پادشاهان و اميران اين زمان كه تا كدام پادشاه و امير باشدكه كار دين باخلاص اختيار كند تا در ميان پادشاهان ديندار ودنيا دار نامداگردد ... (۲۵) بايزيد ددې دعوت او تبليغ لپاره خپل معتمد مريدان او شاگردان شا و خواته واستول كندهار ته ئې خليفه مودود واستاوه چي په برېخو او كاسيو او ترينو كښي ئې تر سنده او سيد پوره پوري تكړه مريدان وموندل.

بل مريد دولت ته ئې صراط التوحيد ورکئ، او د اکبر دربار هند ته ئې واستاوه بله خپله يو رساله فخر الطالبين ئې د خليفه يوسف په لاس د بدخشان امير ميرزا سليمان ته واستوله دغسي ارزانی خپشکی چي په عربي، فارسي، پښتو، هندي ئې شعرونه ويل هند ته ولېږل سو چي هلته "روښاني طريقه" خلکو ته وښيي او په دې ډول په ټوله پښتونخوا او شاوخوا سيمو کښي دده تبليغي ډلي گرزېدې او خلك به ئې روښانيت ته رابلل.

د دبستان مذاهب مؤلف وايي : "شاه بيگ خان ارغون چي په خان دوران مخاطب وْ او بايزيد ئې ليدلئ وْ وايي کله چي بايزيد د ميرزا محمد حکيم دربار کابل ته راغی، د دربار علماء د مناظرې لپاره راټول سول مگر بايزيد دوی عاجز او پړه کړل، نو ميرزا هم دی ايله کئ." (۲٦)

اخوند درويزه چي د بايزيد مخالف ملا دئ هم دده عقل او هوښياري مني او وايي : " بايزيد ډېر په عقل پوره وْ، د دنيا عقل ئې ډېر وْ، هوښياري او زيرکي ئې ډېره زده وه ... څکه بايزيد يو حکمتي وْ ... " (۲۷)

ځينو ليکوالو د اخوند درويزه اختلاف يوازی مذهبي جنگ بللئ دئ او وايي "چي د هغه شاته بې د مذهبي جذبې بل څه نه وو." (۲۸) دا خبره هم داسي ساده نه خلاصيږي او د څنگه سره څېړني او گروېږني لري. د روښان د عصر تحليل پخپله "سياسي جوله" مومي، او يوازي "مذهبي جذبه" نه ښکاري ددې خبري اوږده څېړنه ما په تاريخ ادبيات پښتو دوهم ټوك کښي لس کاله دمخه کړې وه، دلته بايد دا خبره هېره نه سي چي کورگاني حکومت د سيدعلي ترمذي پير بابا په وسيله د اسلام په نامه دا تبليغ کاوه چي پښتانه بايد کورگاني شاهان د اسلامي احکامو له مخي ومني او ددوي اطاعت وکي د کورگانيانو ټول زيار خو سياسي وْ، اما دا چي پيربابا او درويزه هم د دغه مقصد

لپاره (پوهېدلي يا نه پوهېدلي) کار کاوه، هم ثابته خبره ده، اخوند درويزه وايي چي دروښان تبليغي خط پير بابا ته ورسېدئ نو هغه وويل :

"قوی بلا برين مردم افاغنين نازل شده معلوم نيست که نابود گردد، چه درين حدود پادشاه اسلام نيست." (۲۹)

بل ځای وايي : "اما ازين جا که دين و ملت بی حکومت حکام اسلام تقويت نمی يابد فايده نکرد (تبليغ درويزه) زيرانکه پادشاهی اسلام نه بوده تا سر او رابرند ... (۳۰)

دا ښکاره کوي چي د پيربابا او اخوند درويزه دواړو مقصد سياسي او په پښتنو د (اکبرپادشاه) مننه وه، حال دا چي دغه د اسلام پاچا (!) پخپله هم يوه بېله لاره "دين الهی" را ايستلې وه چي محقق علماء ئې مخالف وه. (۳۱).

(۳)

## د روښان د سياسي مبارزې لاري چاري

د دې ليکني په لومړۍ برخه کښي د روښان پير د عصر اوضاع او د خلکو ډلي وښولي سوې، او دا هم په تاريخي سند درته څرګنده سوه چي د روښان غورځنګ د هغه ظلم او تيري په مقابل کښي وْ چي د ټولني د لوړي ډلي له خوا پر کښتو ډلو کېدئ، او د دغو ظالمانو او مستحصلانو زبېښونکو په سر کښي د هند د بابري کورنۍ شاهان او د دوي درباريان او حاکمان ولاړ وو.

لکه اخوند درويزه چي ويلي دي روښان پير ډېر هوښيار او حکيم سړی وْ دده جهان بيني او عصر شناسي خورا ژوره او واقع ليدونکې وه ده تر کندهار او هند او سمرقنده سفرونه کړي، او ددې سيمو د خلکو روحيات ئې کتلي دي

چي خلك څنگه د روحانيانو تابع وه؟ او په هر ځای کښي له شاهانو تر وگړو پوري گرده خلك د صوفيانو او پيرانو پر خانقاهو باندي راټولېدل.

روښان پير د خپلي سياسي مبارزې لپاره د مظلومي ډلي راټولونه او جنگونه هم له روحاني لاري څخه کامیابه گڼله، نو ځکه ده خپل د طريقت او عرفان لار داسي وټاکله چي نر او ښځي دواړه په گډه تلقين کړي او موږ گورو چي دده په مريدانو او مخلصانو کښي ښځي هم سته، مثلاً د خيرالبيان دغه اوسنۍ نسخه د عصمت پناهی بي بي خير خاتو لپاره کښلې سوې ده، چي د روښان له ډلي څخه وه، (١٠٦١ ق) او بله ښځه قاشي نومېده چي ده خلافت هم ورسپارلی وْ، او د اخوند درويزه سره ئې د خپل مسلك دفاعي بحثونه کړي دي. (٣٢)

علی محمد مخلص ليکي چي مودود د روښان پير يو خليفه کندهار ته واستول سو او هغه به : "هر روز دو وقت در ميان زنان و مردان جائی بلند می ساختند و بران می نشست، خيرالبيان و مقصود المؤمنين پيش ايشان ميخواند و معنی آنرا بيان ميکرد، و زن و مرد آنرا می شنيدند... (٣٣)

وايی چي د روښان ماينه به هم په خلوت کښي ناسته وه، او بيا به ئې د نورو مريدانو خدمت کاوه او اخوند درويزه په همدې خبره کښي دده مخالف وْ دی وايي:

"سکه بازيد يو حکمتي وْ، ده به بېله آشنايی کړه له عورتو، لکه عورتي سوې گمراهی، دا مردان ئې هم همراه سوه د غلطو، دې بازيد وبله ټوله کړه د عورتو د زلميو مجلسونه، چي راځئ سره کښېنئ د ښه خدای بولئ ذکرونه. (٣٤)

روښان د خپل طریقت لپاره ښځو او نرو ته یو راز تبلیغ کاوه او هر څوك چي به ئې مرید سو، دغه اووه صفتونه ورته ضرور وه :

۱. له حرامو څخه ځان ساتل.
۲. په خوړولو او څښلو کښي اصراف نه کول.
۳. په نرمي لږ لږ خبري کول، او له ناوړو خبرو څخه ځان ساتل.
٤. لږ خوب، او په ویښه او خوب کښي د خدای (ج) یادونه.
۵. د نیکانو صحبت او له بدانو څخه لیري کېدل.
٦. تل او په پټه د خدای (ج) یادونه.
۷. د خدای (ج) د توحید منلو په لاره کښي تل زیار. (۳۵)

د انسان د نفسي تزکیې او روحاني ارتقا او سلوك لپاره له قدیمه پوهانو او سالکانو "مقامات" ټاکلي وو، د زردشت په مزد یسنا کښي ښه منل، ښه ویل، ښه کول درې مقامه وو، کله چي هیون _ تسنگ چیني زائر د (٦٤٤ م) په شاوخوا کښي افغانستان ته راغی، ددې ځای بودائی خلکو د بودا دغه اته ټاکلي مقامات لرل، چي د نجات پوړونه گڼل کېده :

۱. سمه عقیده.
۲. سمه آرزو.
۳. سمه وینا.
٤. سم کردار.
۵. سم معیشت.
٦. سم زیار.
۷. سم ذکر.
۸. تفکر.

او هغه څوك چي دغه مقامات تېر کي نو د "نروانا" او د نفس د سعادت پوړ ته رسيږي. (٣٦)

د اسلامي تصوف په تاريخ کښي هم د انسان د روحي ارتقا او د نفس د تزکيې لپاره داسي مقامات موجود وْ، چي ابو طالب مکي ډېر پخواني صوفی پخپل کتاب قوت القلوب کښي اووه مقامه (سبعآ ابحر) بللي او بيا خواجه عبدالله انصاري هروي په منازل السائرين او صد ميدان کښي سل مقامه ګڼلي او پر درې پوړه ئې وېشلي دي خو عبدالطيف قادري په جواهر السلوك (د مدارس طبع ١٢٨٣ ق) کښي زر مقامه ځني جوړ کړي دي.

روښان پير د خپلي طريقې لپاره اته مقامه داسي ټاکي :

"و کامل و مکمل آنست که صاحب (١) شريعت (٢) طريقت (٣) حقيقت (٤) معرفت (٥) قربت (٦) وصلت (٧) وحدت (٨) سکونت بود ... (٣٧)

ارزاني ئې داسي شرحه کوي:

| | |
|---|---|
| شريعت دره آغاز دئ | طريقت ئې سوز و ساز دئ |
| حقيقت حال دئ په زړه کي | معرفت ئګي سر راز دئ |
| قربت ئې نزديکي ده | په وصلت کي لا دويی ده |
| په وحدت کښي دويي نسته | سکونت کل نېکخويی ده(٣٨) |

دا خو ټوله هغه مقامات دي چي د نورو صوفيانو په طريقو او ډلو کښي هم وه او موږ ګورو چي صوفيانو تل دغه مقامات په انزوا او نرمي او صفا او صلح کل کښي تېرول، او د سير او سلوك نتيجه به ئې هم دا وه چي سالك به د صلح و صفا خاوند وْ له جنګه او مادي تلاښه به تښتېدئ، او انسان څه چي مچ او مېږی به ئې هم نه آزارول.

خو د پیر روښان د تلقین او خلوت او پر اتو مقاماتو د تلنګ نتیجه دا وه چي په زرو سر فروش او فداکار مریدان توره په لاس د سیاسي مبارزې میدان ته را وباسي. روښان پخپله له خانقاهه راووت او د جګړې پر ډګر توره په لاس ودرېدئ، دده مریدانو، زامنو او نورو اخلافو هم د عرفانه سره سیاست درلود او د طریقت تر چوخې لاندي ئې تېره توره ملګرې وه.

دی له خپلو سیاسي مخالفانو سره چي د مغولو طرفداران وه داسي معامله کوي :

په تیراه کښي ځیني خلك په باطن کښي د مغولو پر خوا وه، روښان ورته ویل : "که ستاسي زړونه له پردو سره نه دي، نو خپل لاسونه وتړئ او راسئ ستاسي توبه هم دغه ده، نو له اعتقاده یا له بیري دیارلس سوه تنه لاس تړلي ورته راغلل. روښان ددوی ګنهکاران (٢٢٠) تنه ووژل او نور ئې له تیراهه وشړل. (٣٩) دلته باید لږ څه غور وکړو چي د روښان هدف او مقصد څه وْ؟ آیا سیاسي وْ که نه؟ دمخه مو ولوستل : چي ده په کندهار کښي د خپل قوم د مظلومیت یو دردناکه پېښه ولیده او په خپل جدوجهد ئې پیل وکئ، چي دوی ته نجات ورکي.

د روښان پیر په دعوت او تبلیغ کښي د مغولو له ظلمه څخه د خلکو آزادي او په دوی کښي یو ملی حکومت بیا جوړول شامل وه، د ظلم غندنه د دوی د ادبي تخلیقاتو سته ده، دولت وایي :

په قیامت به ظالم واړه
ډوب تر حلق پوري په خوی کا
غزرائیل به په آخر دم
مات د هر یوه مغزی کا

بایزید په خپلو مریدانو کښي د یووالي او اتحاد روح پو کئ، او دوی ته ئې یو د حکومت او سیاست ځلی ودراوه، شرعي عشر، اخراج او مالیات به ئې ټولول او یو ملی "بیت المال" ئې هم جوړ کئ، او د اخوند درویزه په قول دده زامنو سکه هم وهله .(٤٠)

کله چي شیخ عمر د روښان زوی دده پر ځای ودریدئ اخوند درویزه لیکي :

" شیخ عمر خود را پادشاه افغان تصور کرده، حتی که مردم یوسفزی انقیاد بعضی او امر دنیوی او نموده بل بدادن عشر و خراج راضی شده (٤١).

بیا هم د شیخ عمر حال بیانوي:

"شیخ عمر په جهان غږ وْ کښیستلی

چی راځئ زه پادشاه شومه،

دا دنیا به ونیسمه،

هر چي اوس ئې وي اکرام و ما راوړی،

خزانې به ور ویشمه"

(مخزن ، ١٣٤)

له دې څخه ښکاري چي روښانیانو سیاسي تشکیلات لرل او یو حکومت غوندي سازمان ئې جوړ کړئ وْ، د دبستان موْلف موبد د شیخ عمر د زوی احداد حال ښیي او وایي :

"احداد مردی بود عادل و ضابط ... و حق مردم را بمردم رسانیدی و خمس اموال که از جهاد بهم رسیدی در بیت المال داشتی و آنرا نیز بغازیان رسانیدی" (٤٢)

تر شیخ عمر وروسته دده زوی جلال الدین د روښانیانو مشر سو، دده له خبرو څخه هم د روښانیانو سیاسي مقاصد او د یوه افغاني حکومت جوړول داسي ښکاري، دروېزه وايي :

"دغه لاپه ئې په خوله کړه چي پادشاه د پښتنو یم، پښتنو لره به ښه کړم، پښتانه راپسي ځي، زه به ماتي د اگرې او دسکرې دروازې کړم. (٤٣)

دا خو د روښان د زامنو او لمسو له خولې راوتلي خبري وې، چي د دوی لوړ عزایم ښيي اوس پخپله د روښان یو لویه اراده د اخوند دروېزه په الفاظو کښي واورئ :

" لښکري به کړم بنیادي هندوستان به ونیسمه، آوازې ئې کړلې گډي، هر چي آس لري راځئ، آس په ما پوري باسئ !

د اکبر پادشاه ټنگي واړه زما دي، دوه گونه به درکوم دغه ښادی. (٤٤)

روښان او دده اخلافو په هندوستان کښي د پښتنو خلجیانو او لودیانو او سوریانو د برم وختونه نه وه هېر کړي او روښان په ښکاره وايي چي هندوستان به بیا نیسم، او دده زوی شیخ عمر د مغولو د پایتخت اگرې او سیکرې دروازې ماتوي، او دا هغه لوړ عزایم دي چي روښانیان ئې د ډله ییزي مبارزې په صف کښي درولي او له تیري کوونکو سره ئې جنگولي وه.

د روښان د موْثر شخصیت او اغیزه من سیرت یوه نخښه داده چي ده په زړو فداکار او سر فروشه مریدان وروزل، دوی به په تش لاس د غښتلي غلیم سره جنگېدل او په خونړیو جگړو کښي به ستی کېدل، خو نه ایلېدل او نه ئې وسله غورځوله،. د تیراه په چوري کښي پیر روښان او دده ملگري د مغلو لښکرو را ایسار کړل، د غرو خلکو وسله نه درلوده د چوري درمئ ډېري کلکي دي، نو روښان خپل مریدان وگمارل چي دا درمئ پرېکوئ او سرونه ئې تېره

کوئ، دا ستاسي وسله ده، روښانيانو په دغه وسله مغول مات کړل، او د سانګو کار ئې ځيني واخيست.(٤٥)

د روښان زامن او لمسي او ډېر دروړيان او مريدان ئې په جنګو کښې وژل سوي دي، موبد شاه يوه عجيبه قصه ليکلې چې د روښانيانو سربازي او فداکاري ښه څرګندوي، او دا ښيي چې د دوی ښځو هم سرونه بايلل، خو مغولو ته ئې ځانونه نه سپارل:

"افغانان بعد ازو سال احداد، عبدالقادر بن احداد را برداشته و بکوه رفتند و لشکر پادشاهی که گمان مسخر شدن قلعه نداشتند داخل قلعه شدند، دختر احداد در قلعه میگردید، یکی از لشکریان آهنگ گرفتن او کرد، دختر چادر بر چشم افگنده خود را از دیوار قلعه بزیر افگند و هلاك گشت. (٤٦)

د دي ټولو فداکاريو سبب هم دا وْ، چې روښان پير خپلو پيروانو ته دا ورښوولي وه چې حاکمه ډله ددوي غليمان او تالا کوونکي او زبېښونکي دي او د دوي له تېريو او چوروچپاوه ځان خلاصول هم يو مشروع او ضروري کار دئ. روښان دا په سترګو ليدل چې د وګړو مبارزې ډېر ځله په دې سبب بريالی نه سي چې له دوي څخه مرتجع او سازشکار عناصر د بډايانو او زبېښونکو مقتدرانو په بډو او غوړو ګولو اموخته سي نو د مبارزې له ميدانه وزي او تالی ځنې ځيني جوړيږي، له دې جهته د روښان په طريقت او تلقين کښې دا خبره په ټينګه داخله وه چې د مغولو سره به دوستي او نزديکي نه کوي له دوی څخه به ځان ليري ژغوري، او راشه درشه به نه ورسره کوي، ددې تلقين اغيزه دا وه چې موبد شاه د سلطان ذوالقدر له خولې وايي:

"چون به فرمان سعيدخان بخواندن عبدالقادر رفتم اقسام اطعمه و اشربه بهر او می آوردم، تا بدان فريفته شود، روزی يکی از افغانان پير بعد از چشيدن

حلوا برخاست و گفت : ای عبدالقادر ! از زمان نیای بزرگوار تو تا این زمان قدم ... اینجا نرسیده است این مردیکه آمده میخواهد تر بجامه سرخ و زرد و اطعمهْ چرب و شرین که رغبت بدان، دین اصحاب بطن، و نفرت آن آئین درویشانست بفریبد. صلاح درینست که اورا بکشیم، تا دیگری از هراس بدینجا نیاید اما عبدالقادر و مادرش بی بی علائی که دختر میان جلال الدین است راضی نشدند.

روزیکه عبدالقادر داخل اردوی سعید خان میشد از آواز نقاره و کرنای اسپ او می ترسید، از میان مردم بر کنار میرفت. افغانی با اوگفت : آنچه حضرت میان روشن فرموده است اسپ بجا می آورد و شما نه خمار این مستی خواهید کشید ! عبدالقادر فرمود میان چه فرموده است ؟ افغان گفت : "از ... دوری و اجتناب !" (٤٧) دغسي ډله ییزه کرکه د روښان د مبارزې یوه اغیزمنه وسله وه، چي پای ئې سر بایلل او ځان واری کول وه، لکه د احداد لور او په زرو نور فداركار سربازان او تور کښان. (٤٨)

(٤)

## د روښان پیر ادبي ځنګ او دده تالیفونه

روښان په ځلورو ژبو : پښتو، فارسي، عربي، پنجابي پوهېدئ، او په دغو ځلورو ژبو ئې لیك او لوست هم کاوه، په ځلورو سرو ژبو کښني او لیکني هم لري.

په پښتو لیکنه کښې دی یو خاص "سبك" لري چي تر ده دمخه ئې مورږ مثالونه په پښتو ادب کښي نه دئ لیدلي.

تر ده دمخه موږ ځيني د پټې خزانې منظومي لرغوني ټوټې او د سليمان ماکو د تذکرې منثوري نمونې (٦١٢ ق ١٢١٥ م) لرو چي گرده د پښتو ژبي د نظم او وينا له سمون او پېودون سره برابري دي، يعني په هغه ډول چي خلك پښتو وايي ليکوال هم خپل مطلب پر هغه ډول سم ليکي جملې او افعال او روابط پر خپل خپل ځای ږدي مگر په عربي او فارسي ادب کښي اته سوه کاله دمخه يو راز فنی نثر هم باب سوئ وْ چي جملو به ئې "سجع" درلوده او ليکوال به داسي مسجعي جملې سره پيودلي چي د پای کلمې به ئې سره يو رنگه او موزوني وې د دغه راز مسجع نثر نمونې په عربي ادب کښي د العتبي تاريخ يميني او د ابو الفتح بستی اقوال دي، او په فارسي ادب کښي مقامات حميدي او ځني منشا آت دي چي گرده د افغانستان په سيمو کښي کښل سوي دي.

ځکه چي دغسي "فني نثر" د ايشيا په عربي او فارسي ادب کښي ځای نيولئ وْ او پخپله په افغانستان کښي ئې بولگي ليدلي کېدې، نو که روښان خپل پښتو نثر ددغو رواياتو او سوابقو سره سم په فني او مسجع ډول کښلي وي، کومه ليري خبره نه ښکاري. خيرالبيان د پښتو د پېژندل سوو کتابو څخه يو پخوانی منثور او موږ ته رارسېدلئ کتاب دئ، چي د پښتو خاصو حروفو لپاره ځانته اشکال او املا لري، او ښاغلي لوستونکي ئې په هغه واحده خطي نسخه کښي چي ددې غونډې په وياړ خپره سوې ده کتلای سي.

دا نسخه پنځه ويشت کاله دمخه په لندن کښي د سرډين سن راس انگليسی مستشرق څخه وه چي لومړی پلا د ناورې ختيځ پوهاند مارگن ستيرن د هند د لرغونو آثارو په مجله (ج ١١ گڼه ٥ ص ٣٦٦ _ بمبی ١٩٤٩ م) کښي يوه مقاله پر وکښله دا نسخه تر دوهم جهاني جنگ وروسته د توبنگن د پوهنتون

(جرمني) په کتابخانه کښي پیدا سوه او په (۱۳٤۲ ش) کال د کابل د استقلال په جشن کښي د جرمني سفارت په نندارتون کښي ایښي او ما لیدلې وه او تر دغه دمخه ئې یوه عکسي نسخه هم ښاغلي ښنوا لاس ته راوړې وه چي د هغه له رویه دغه اوسنۍ عکسي نسخه چاپیږي. تر روښان پیر وروسته اخوند درویزه خپل پښتو او فارسي مخزن الاسلام د (۱۰۱۵ ق ۱٦۰ م) په چاپېر کښي وکیښ، چي د موضوع له پلوه د خیرالبیان او روښانه سره معارض دئ، مگر په سبك او انشاء کښي د روښان پیروي او تقلید کوي، او تر دې وروسته موږ گورو چي په پښتو کښي ډېر منثور کتابونه راوتلي او ټولو د پیر روښان د سبك پیروي کړې ده، او له دې جهته نو ما د پښتو ادب په تاریخ کښي د پیر روښان د سبك په نامه یو خاص څپرکئ (فصل) ټاگلی دئ. (٤۹) د پیر روښان پر عرفاني او تصوفي افکارو او دده پر طریقت او ذکر او خلوت باندي ډېر اعتراضونه سوي دي چي ځني اعتراضونه د تعصب او میرڅی په جوله کښي دي او مخصوصاً اخوند درویزه خو دده لوی رقیب دئ او هر ځای ده ته ښکنځل کوي، او غندي ئې، مگر د پښتو په لیکنه کښي دده پیروي کوي او هغسي ئې کاږي لکه خیرالبیان چي کښل سوئ وْ.

د روښان دغه تالیفونه تر اوسه پوري زه پېژنم :

**۱. خیرالبیان :**

په څلور ژبي : پښتو، عربي، فارسي. پنجابي فقط دغه یوه خطي نسخه ئې په دنیا کښي پیدا سوې او دغه دئ چي اوس عین هغه نسخه عکسي چاپ سوه او دمخه په (۳۰۱) مخه کښي په پېښور کښي د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي په تحشیه او مقدمه او اهتمام چاپ سوې ده : جون ۱۹٦۷ م.

دا لومړی چاپ په زيار تيار سوئ او ښاغلي حافظ قاسمي ګټوري حاشيې پر ليکل يدي مګر د خيرالبيان د ګرامر او بيان او وزن او سجع او کلماتو تحليل ډېر نور کار هم غواړي او د پښتو څېړنو لپاره يو خورا غوره ذخيره ده.

## ۲. مقصود المؤمنين:

عربي کتاب دئ چي روښان د خپل زوی شېخ عمر په غوښتنه کښلی دئ او هر ځای هغه ته ولدي العزيز خطاب کوي او (۹۵) پاڼي (۲۱) فصلونه لري يوه خطي نسخه ئې د لاهور د مرحوم پروفيسور محمدشفيع په کتابخانه کښې ما ليدلې وه، چي له دغي نسخې څخه د لاهور اورينټل کالج ميګزين په مجله کښي چاپ سوئ هم دئ، دا نسخه شل فصله لري، او د (۱۲۲٤ق) کال په ربيع الثاني کښي په نستعليق کښل سوې ده، چي تر ليکو لاندي ئې فارسي تحت الفظ ترجمه هم سته.

بله خطي نسخه ئې د حيدر آباد دکن په آصفيه کتابخانه کښي سته، چي په (۱۲۲٦ ق) کښلي سوې ده، او بروکلمن ئې هم نوم راوړي (۵۰). د مقصودالمؤمنين مطالب عرفاني او تصوفي او شرعي دي، مګر ژبه ئې معياري ادبي عربي نده ډيري ګرامري ناوړي لري او داسي ښکاري چي ليکوال ئې په عربي ګرامر لږ پوهېدئ.

## ۳. صراط التوحيد:

دا کتاب په فارسي ژبه په (۹۷۸ ق) کال تاليف سوئ دئ چي په (۱۱۵) مخه کښي په (۱۹۵۲ م) کال له پېښوره چاپ او خپور سو، ماته ګوډه فارسي او عربي ده مګر د واقعاتو د بيان او د روښان د طريقت په لحاظ ښه معلومات لري،

پاچاهانو او امیرانو ته خطاب کوي، او دوي عدالت او انصاف او توحید او معرفت او شریعت ته راغواړي، او ځینو کتابو لکه مقصد اقصی (د عزیز نسفی تالیف) او امیریه او درویشیه ته حوالي ورکوي. دا هغه کتاب دئ چي د حالنامې په قول ئې یوه نسخه د اکبر پاچا دربار ته هم استول سوې وه. (۵۱)

**۴. فخرالطالبین:**

دا کتاب د حالنامې په قول پېژنو، چي وایي بایزید دغه رساله د خلیفه یوسف په لاس د بدخشان حکمران میرزا سلیمان ته لیږلې وه دغه میرزا د خان میرزا زوی او د بابر تربور وْ، چي په (۹۹۷ ق) کال په لاهور کښي وفات سو (۵۲) د فخرالطالبین کومه خطي نسخه تر اوسه نه ده موندلي سوې.

**۵. حالنامه:**

موبد د دبستان مذاهب موْلف وایي : "و حالنامه کتابی دارد که در آنجا احوال خود را باز گدارده. (۵۳)

دا کتاب بایزید په فارسي کښلئ وْ چي وروسته د اورنگزېب په وخت کښي دده د کورنۍ یو مرید علی محمد بن ابوبکر قندهاری تکمیل کئ او دده د زامنو او لمسیو او د کورنۍ حال یې پر زیات کئ چي دغه کتاب د بایزید او دده د کورنۍ په شرح حال کښي یو ټینگ او د باور وړ ماخذ گڼل کیږي.

د هند د علی گړ په شرقي کتابتون کښي د حالنامې یو خطي نسخه (نمبر ۹۲۰/۳۸۰) سته چي (۵۲٦) مخه ده، او (۱۵) جزوه لري او د تالیف وخت ئې (۱۰۵۰ ق) کال ټاکلای سو.

**٦. د پښتو رسم الخط:**

د دولت په خطي دېوان (ص ٣ د پښتو ټولني نسخه) کښي دا بيت راغلئ دئ :

افغاني لفظ مشکل و لوست کوينښ نشه
ورته وشــــوه کننده ديارلس حــــرفونه

د خيرالبيان دغه يوازينۍ خطي نسخه چي عکس ئې وينئ په سر کښي (١٤) مخه يوه رساله لري، چي د رسم الخط او پښتو ليك دود بيان دئ، د ارزاني او دولت قلمي دېوانونه چي ما ليدلي دي او د قندهار د مرحوم دوست محمد برېخ د يوې ښنومي نسخې (چي د روښان په طريقه پوره اړه لري) ليکد ودونه د خيرالبيان ددغي سريزي سره برابر دي، او ښايي چي دغه رساله پير روښان د پښتو ليك دود (٥٤) لپاره کښلې او بيا ئې د خيرالبيان په سر کښي ور اچولي وي چي لوستونکي ئې په ليك دود خبر سي. (٥٥) د مولانا قاسمي د خيرالبيان په سريزه (ص ٥٠) کښي پير روښان ته دوه نور کتابونه يو مکتوبات او بل پنجابي منظوم کتاب "واجيد دي شلوك" (مرتبه او نکار ناآ) منسوب سوي دئ مگر دا دواړه کوم سند نه لري، نو ئې زه دده په تاليفو کښي نه شمېرم خو يو بل کتاب چي خطي نسخه ئې اوس ما کتلې ده او دمخه مي نه پېژاند دلته دده په تاليفاتو کښي زياتوم دا کتاب تر اوسه نه شرقي پوهانو او نه مستشرقانو پېژندلئ دئ.

**٧. د روښان يو نوموركی تاليف:**

د کابل د خطي نسخو په کتابتون کښي یوه مجموعه سته چي په جیبي قطع یو څو خطي کتابونه پکښي رانغښت سوي او ګنډل سوي دي :

۱. لومړۍ برخه ئې د جزء عم یو فارسي تفسیر دئ چي غالباً به د تفسیر حسیني (مواهب علیه) آخرنۍ پاره وي، ددې برخي په لومړي مخ باندي یو مدور (۲ × ۲) سانتی مهر سته، چي په ښه نستعلیق خط پر کښلي دي : "۱۰٤٤ بنده باري مرید بایزید انصاري همدان بن شیخ نعمت" او له دې څخه داښکاري چي د (۱۰٤۳ قمری هجري) کال په شاوخوا کښي همدان نومي د روښان پیر مرید ددغي مجموعې خاوند وْ.

دغه تفسیر تر سورهْ الناس پوري تمامیږي او په پای کښي د کاتب امضاء او تاریخ نه لري خط ئې خوانا نستعلیق او آیات په سره متوسط نسخ کښل سوئ دئ.

۲. تر دې وروسته یوه فارسي لنډه رساله "بیان ذکر الخفی المستجلب للاجرالوفی" ده چي څلور نیم کوچني مخونه لري او موْلف ئې نه دئ معلوم.

۳. تر دې کوچنوټې رسالې وروسته رسالهْ غوثیه داسي شرو کیږي : "حمد بسیار و شکر بیشمار مر حضرت خدایرا ..."

د رسالې د لیك ډول داسي دئ چي په سره خط "قوله تعالی یا غوث اعظم" کاږي وروسته ددغه غوث اعظم یوه عربي خبره رانقلوي بیا نو د هغې ترجمه په فارسي لیکي او کله کله ځیني فارسي بیتونه هم په دغه ترجمه کښي ځای لري، چي منثوره فارسي ترجمه ئې روانه او ښه ده، مګر دغه منظومات ئې مات او ګوډ او بې وزنه او په معنی کښي ضعیف ښکاري، او عربي ئې هم د یوه پاخه عرب لیك نه ښکاري، او ناوړي لري، چي متاسفانه دغه غوثیه رساله

ناتمامه ده او د ليك تاريخ او د كاتب او مؤرخ نوم نه لري، په سر كښي پسله حمده او نعته داسي شرو كيږي : "قوله تعالى ..."

د اسلامی ادبياتو په تاريخ كښي موږ د روښان پير دمخه دوې الرسالآ الغوثيه پېژنو : يوه د شېخ محى الدين محمد ابن عربى (مړ ٦٣٨ ق) داسي پيل كيږي :

"الحمدالله كاشف الغمه ..." بله د شېخ عبدالقادر گيلاني غوث الاعظم (٤٩١ _ ٥٦١ ق) په نامه ده. (٥٦)

وايي چي شېخ عبدالله شطارى د بهلول سنديلي زوى چي په آگره كښي په (٢٣ جمادى الاولى ١٠١٠ ق) مړد ئ پر دغي رساله غوثيه باندي شرح كښلې وه. (٥٧) او مولوى عبدالحميد بدايونى (مړ ١٢٦٣ ق) د ملفوظات غوثيه جواهر الرحمن شرح د مواهب المنان په نامه كړې ده. (٥٨) او د غوث الاعظم جيلاني زوى سيد عبدالرزاق هم يو "مهلمات قادرى" تاليف كړئ وْ، چي ترجمه ئې په هند كښي نظام الدين كاكورى په فارسي كړې وه. (٥٩)

دا چي رساله غوثيه او ملفوظات غوثيه او شرح مكالمات غوثيه (د پېښور د اسلاميه كالجم خطوطه) (٦٠) درې سره يو متن دي او كه بېل كتابونه دي اوږده مطالعه او څېړنه غواړي، چي اوس دستي زما څخه نه دغه كتابونه سته او نه ئې د پېژندني وسايل لاس ته راځي، نو زه دغه خبره نورو پلنو څېړنو ته پرېږدم خو دلته دغه زموږ د خطي كتابخانې مجموعه سره سپنم : متاسفانه ددغي مجموعې څو پاڼي د رسالهْ غوثيه په پاى كښي لوېدلي او وركي سوي دي، او دغه ډول خطاب يا غوث الاعظم او د هغه فارسى ترجمه هم پرې سوې ده دا نه ښكاري چي څوني پاڼي به ئې نيمه خوا سوي وي؟ خو وروسته ځني آيات او عربي مقولې او د صوفيانو خبري دي، چي په فارسي ترجمه يا

شرحه لري دا هم ډېر مخونه دي خو د سر اوسنی پاڼه ئې د غوث اعظم د رسالې سره په مضمون کښي نښتون او سمون نه لري نو ځکه زه نه سوای ویلای چي ددې رسالې نوم څه دئ؟

آیا دا د هغي مخنۍ رسالهْ غوث اعظم پایڅوړ دئ که څه؟ مگر ددې آخرنۍ برخي په منځ کښي يو ځای داسي وايي :

"قال بایزید مسکین : مع السالکین ذکر اسم الله فضیلاً و ذکر الله فریضاً، لا یذکر الانسان شیی بغیر معرفت الاسمه و چون ترا از خدا پرسند چه جواب می دهی و چه میگوئي ؟ آن روز دروغ گفتن بکار نیاید، و به دروغ نگذری و نجاآ نیابی که خدای تعالی به دروغ گویان لعنت گفته است کما قال فنجمل لعناَ الله علی الکاذبین ..."

د عربی او فارسی نوشتې بڼه او جوله د روښان پیر د نورو تالیفاتو له موضوع او سبك او ډول سره برابره ښکاري او ځکه چي په صراحت د بایزید مسکین نوم اخلي او دا هم د خیرالبیان او صراط التوحید او مقصود المؤمنین سره سم دي، نو ځکه دغه رساله هم د پیر روښان گڼم. بل دلیل دادئ چي دغه رساله داسي ختمیږي: قال بایزید مسکین ابن عبدالله : راحت روح کان وصف الله و عذابه صفاً البشریاً فکل راحت یهلك عن الانسان ، بغیر وصف الرحمن.

این رساله مختصر کردم تمام

عاملاتش امن یابند جاویدان

تمت تمام شد کار من نظام شد، امیدوار است با لطف باری همدان ابن شیخ نیعمت (کذا) مرید میا روښان انصاری ... تحریر فی تاریخ ۱۷ شهر شوال ۱٤۳ (۱۰٤۳ق).

دغه نوشته ښيي چي د کتاب کاتب هغه د لومړنی مخ د مهر خاوند دئ چي (۱۸) کاله ئې د خيرالبيان د خطي نسخې تر کښلو دمخه دغه فارسی او عربي رساله کښلې وه او موْلف ئې هم بايزيد روښان دئ.

ددي مقصد دپاره دا هم يو دليل کېدايسي چي مضامين ئي اکثر د پير روښان د نورو تاليفاتو سره په ظاهره او په معنی کښي پوره شباهت لري د عربي ليك ئې پر ادبي معيار پوره سم نه دئ فارسي نظمونه ئې مات او گوډ دي، او په معنا کښي ډېر ورسره ورته دي.

تاسي د روښان عربي مقوله راحت روح کان ... لوړه ولوسته چي د خيرالبيان له دې جملې سره معنوي او ظاهري شباهت لري.

"راحآ الروح وصف الرحمن و عذابه وصف الانسان ... ذات وصفات المخلوقين تغير و تهلك و لاتغير و لا تهلك ذات و صفات الرحمن." (٦١)

څو مخه وروسته وايي : "من دخل بالصدق فی وصف الرحمن و خرج عن وصف الانسان فوجد راحآ الايمان. (٦٢) اوس به نو موږ يقين ته نژدې دا وويلای سو چي دغه خو د روښان يوه رساله ده مگر کومه رساله؟ تر اوسه ئې نوم نه دئ ښکاره.دلته بايد دا خبره هم هيره نکو : چي ددې مجموعې ناتمامه رساله غوثيه هم د عبارت او معنا له پلوه د حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني يا دده د زوی سيد عبدالرزاق جيلانی يا د شېخ محی الدين ابن عربی نه ښکاري (٦٣) د عربي انشاء په لحاظ بايد د يو عجمي (غير عربي) ليك وي چي زه دغه رساله هم د روښان پير آثارو ته ورته گڼم، په خيرالبيان کښي چي بايزيد د کومو الهاماتو مدعی دئ په هغو کښي کله کله ده ته د "ياغوث الاعظم" خطاب هم سوئ دئ، (٦٤) نو هيځ د تعجب خبره نه ده چي د ابن عربي او شېخ جيلاني په پيروي دي روښان دغسي يوه رساله هم تاليف کړې وي نو ځکه چي ده

ځان پير کامل او مکمل ګاڼه او مريدانو لوی "غوث" مانه که موږ ددغي رسالې شباهت د روښان د نورو آثارو سره په مضامينو او په ناوړي عربي انشاء او ماتو ګوډو فارسي منظوماتو کښي وګورو نو ضرور دا فکر پيدا کيږي چي دغه رساله غوثيه به هم د بايزيد تاليف وي. مګر دا به هلته يقيني سي چي ددې رسالو پوره متنونه وموندل سي، بيا د غوث الاعظم جيلاني او دده د زوی له منسوبه آثارو سره مخامخ او مقابله سي.

په دغه خطي مجموعه کښي چي د روښان پير دغه ناپېژندل سوي آثار ګنډل سوي دي يوه نسب نامه غوث الاعظم جيلاني او سلسله خواجګان چشت او د دوی مقامات هم سته او بيا نو د کحل الجواهر رساله ده چي په (۵ جمادی الاولی ۱۲۸۸ ق) په قريهٔ روضه کښي ليکل سوې ده.

په آخر کښي د نقشبنديانو سلسله او د دوی لطائف او مقامات او اذکار دي خو دا کتاب هم ناتمام دئ. د مجموعې دغه وروستنۍ برخي په اومه نستعليق پر سپين خوقندي کاغذ کښل سوې دي چي په خط او کاغذ کښي له لومړيو برخو سره اړه نه لري.

په هر ډول دغه مجموعه د مختلفو او ډول ډول محتوياتو له رويه يوه مفيده او ارزښتي نسخه ګڼله کيږي او د کابل د خطي نسخو يوه غوره مجموعه ده. (٦۵)

**لمن ليکونه**

۱. د سليمان ماکو تذکره، پښتانه شعرا، ج ۱ ـ ص ۵۰

۲. تاريخ مرصع په ګلشن روه کښي، تذکرآ الابرار، حيات افغاني، پټه خزانه ۲۱، متاسفانه د شيخ ملي د دفتر نسخه تر اوسه نه ده پيدا سوې.

۳. بابرنامه ۲۳۹ ، یوسفزائی افغان ۳۱۷.

٤. د سمرقند اسناد چي د دکتر مېرمن چیخوویچ سره ټول کړي او په روسي ئې ترجمه کړي هم دي. د مسکو چاپ ۱۹۷٤م.

۵. رحمان علی : تذکره علمای هند، ۱۰۳ د لکهنو طبع ۱۹۱٤ م.

٦. تاریخ مرصع، تواریخ حافظ رحمت خاني د پېښور چاپ، تذکرآ الابرار.

۷. بابرنامه ۱۵٤.

۸. بابرنامه ۱۲۹.

۹. مطلع سعدین خطی ۵۷٦.

۱۰. مجمل فصیحی ۳ _ ۱۵۱.

۱۱. د پیر روښان صراط التوحید ۲۰

۱۲. د اعظم ګړ مجله معارف ج ۱۹ ص ۲۳۵ جون ۱۹۲۷ م د خطي تذکرآ الانصار په حواله.

۱۳. دا نوم د بي بي یو هندی سوئ شکل ښکاري.

۱٤. د دولت خطي دېوان

۱۵. معارف ۱۹ / ٤۳۵

۱٦. اخوند دروېزه تذکرآ الابرار ۱۵۲

۱۷. دروېزه : مخزن ۱۲٤

۱۸. ګریرسن انګرېزی پوهاند د روښان مرګ په (۱۵۸۵ م ۹۹٤ ق) کال کښلی دئ (لنګوسټك سروي آف انډیا ۱۰ / ۱۰) چي وروسته ځینو نورو لیکوالو هم دغه غلطي تعقیب کړې ده، او دا د دبستان مذاهب د غلطو لوستلو څخه ورپېښه ده، چي د دبستان مؤلف د میرزا محمدحکیم

د مرگ خبر په (۹۹٤ ق) اروېدلئ وْ، گریرسن داسي گڼلې ده چي دغه د روښان پیر د مرگ کال دئ.

۱۹. د اعظم گړ د معارف مجله، ٤۳۳/۱۹ جون ۱۹۲۷

۲۰. د طبقات الصوفیه طبع کابل ۱۳٤۲ ش مقدمه وگورئ د حبیبي لیك.

۲۱. محمدقاسم فرشته ۱٦۲

۲۲. تذکرآ الابرار ص ۲۹۲

۲۳. مخزن ۱۲۸

۲٤. وگورئ دصراط التوحید خاتمه او د خیرالبیان ډېر ځایونه

۲۵. صراط التوحید ۲۷

۲٦. دبستان ۲۵۱

۲۷. مخزن ۱۳۰

۲۸. تقویم الحق : د مخزن مقدمه

۲۹. تذکرآ الابرار ۱۵۱

۳۰. مخزن ۱۲٤

۳۱. اولف کیرو : پټهانان ۱۹۹

۳۲. تذکرآ الابرار ۱٤۷

۳۳. حالنامه ۳٤۱ خطي

۳٤. مخزن ۱۳۰ دا چي درویزه ئې دوني ناوړه کار بولي او "جونه زلمي اور پنبه" گڼي د اسلامي تصوف په تاریخ کښي دمخه هم ښځي د طریقت او تصوف په حلقو کښي وې، مثلاً د خواجه عبدالله انصاري هروي په ملگرو کښي بي بي حرثمیه ام الفضل د عبدالصمد لور پېژنو

چي په (٤٧٧ ق) وفات سوې ده او د علم حديث استاده وه (د ابن عماد شذرات الذهب ج ٤) ابن رجب په طبقات الحنابله (ج ـ ١) کښي وايي چي د خواجه عبدالله انصاري نونيه قصيده له محمد صيدلانى څخه ښځو رانقل کړېده، دغسي هم د کسی غره د شېخ کبير په مريدانو کښي ښځي وې، چي د اور او پنبه قصه هم له دغه ځايه مشهوره سوې ده.

۳۵. صراط التوحيد ٨٤

۳٦. سى ، يو، کى (د هيون تسنگ سفرنامه)

۳٧. صراط التوحيد ٤٧

۳٨. د ارزانى خطي دېوان

۳۹. تاريخ مرصع خطى او تذکرآ الابرار

٤۰. مخزن

٤١. تذکرآ الابرار ١٥٥

٤٢. دبستان مذاهب ٢٥٢

٤۳. مخزن ١۳٥

٤٤. مخزن ١۳۳

٤٥. تاريخ مرصع، تذکرآ الابرار.

٤٦. دبستان مذاهب ٢٥٢

٤٧. دبستان مذاهب ٢٥٢

٤٨. دا کلمه په خيرالبيان کښي د عسکر او سپاهي په معنى راغلې ده چي په پخوانو آريائيانو کښي کشتري وه.

٤٩. وگورئ : پښتانه شعراء لومړى ټوك او د پښتو ادبياتو تاريخ دوهم ټوك.

۵۰. بروکلمن د عربی ادبیاتو تاریخ ۲/ ۹۹۱

۵۱. اسلامي دائرآ المعارف _ ج ۱ د بایزید کلمه.

۵۲. اکبرنامه ۵۵۱/۲

۵۳. دبستان ۲۵۱

۵٤. اورینټل کالج میګزین _ ص ۳۵ می ۱۹٤۳ لاهور

۵۵. د تفصیل لپاره وګورئ : د پښتو ادبیاتو تاریخ ۲۹۰/۲

۵٦. کشف الظنون ۸۷۹ د استانبول چاپ ۱۹٦۷ م او اسماء المؤلفین ۵۹٦/۱ د استانبول چاپ ۱۹۵۱.

۵۷. رحمان علی : تذکرهٔ علمای هند ۱۰۳ د لکهنو چاپ ۱۹۱٤ م

۵۸. دغه کتاب ۱۳۳

۵۹. دغه کتاب ۳۳

٦۰. مولوی عبدالرحیم : لباب المعارف، ن ۱۰۳٦ ص ۱۹۲ د اګرې طبع ۱۹۱۸ م د بروکلمن په قول ددې رسالې یوه خطي نسخه د اسکندریې په کتاب خانه کښي هم سته.

٦۱. خیرالبیان _ ۲۹۱ _ ۲۹۲

٦۲. خیرالبیان _ ۲۹۸

٦۳. وایی چي د نفري عربي کتاب المواقف هم دغسي الهامي رنګ لري (قاسمي د خیرالبیان مقدمه)

٦٤. خیرالبیان ۲۱۸ _ ۲۹۱.

٦۵. د روښان یاد، د ۱۳۵۵ ل کال چاپ کابل، ص ۲٦۵ _ ۲۹۸.